PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او زمونږ په پیدایښت کې داسې امت هم شته چې د حق په لور ښوونه کوي او تل د حق په تله پرېکړې کوي او کومو کسانو چې زمونږ آیتونه درواغ ګڼلي مونږ به یې پورې په پورې داسې ونیسو چې هغوی به پوه هم نه شي. اوس هغوی ته وخت ورکوم. زما تدبیر خورا پیاوړی دی.
(سورة اعراف : ۱۸۱ - ۱۸۳)

درس حدیث

از انس رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که دوست بدارد اینکه روزی اش فراخ گردیده و عمرش طولانی گردد، باید صلهء رحمش (پیوستگی با نزدیکان) را پیوسته بدارد. (متفق علیه)

شهادت خلورم کال، ۷ مه ګڼه، پرله پسې ۱۵۸ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د غبرګولی ۳ مه د۱۴۳۳ هـ ق د رجب المرجب ۲ مه د۲۰۱۲ م د مې ۲۳ مه

هغه چاته به ویزه ور نه کړو چې د افغانستان تجزیه غواړي "کرزی"

د امریکا د کانګریس هیڅ یو غړی باید په قومي بنیاد د افغانستان د تجزیې خبرې او زموږ په کورنیو چارو کې مداخله ونه کړي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان ولسمشر حامد کرزي د شیکاګو د سفر په لړ کې له سي این این تلویزیون سره په مرکه کې وویل چې د امریکا د کانګریس غړي روهرابکر ته به اجازه ورنه کړي چې افغانستان ته ورشي ځکه چې نوموړی د افغانستان د تجزیې لپاره هڅې کوي.
حامد کرزي سي این این ته وویل، د بکر فعالیتونه د افغانستان د وېشلو په لړ کې دي، ځکه ده ته اجازه نه ورکول کېږي چې افغانستان ته سفر وکړي.
کرزي همداراز وویل: "د امریکا د کانګریس یو غړی باید په قومي بنیاد د افغانستان د تجزیې خبرې او زموږ په کورنیو چارو کې مداخله ونه کړي."
کرزي سي این این ته وویل: "که یو افغان تبعه داسې کار وکړي، امریکا به د هغه په وړاندې څه عکس العمل ونښيي؟"
ده په کلکه وویل، تر څو چې دنا روهرابکر د

پاتې ۳ مخ

اعلامیهء شیکاګو:

پس از ۲۰۱۳ همه عملیاتهای نظامی را نیروهای افغان انجام میدهند

پژواک:
در اجلاس سران کشورهای عضو ناتو در شیکاګو، فیصله به عمل آمد تا پروسهٔ انتقال مسوولیت های امنیتی، به نیروهای افغان، الی اواسط سال ۲۰۱۳ به پایان برسد و پس از آن، همه عملیات های جنګی را نیروهای افغان انجام دهند.
اجلاس سران کشورهای عضو ناتو، به اشتراک سران ۶۰ کشور و سازمان بین المللی، دو روزقبل در شیکاګو آغاز ګردید و مطابق وقت امریکا، عصر روز ګذشته پایان یافت.
دراین اجلاس رئیس جمهور حامد کرزی، وزرای دفاع ملی و امور خارجه، داکتر سپنتا مشاور امنیت ملی رئیس جمهور و داکتر اشرف غنی احمدزی مسوول کمیسیون انتقال، به نماینده ګی از افغانستان شرکت کرده بودند.
در روز اول این نشست، در مورد سازمان ناتو صحبت شد، ولی جلسهٔ روز دوم این اجلاس، به موضوع افغانستان اختصاص یافته بود. که ضمن آن سران ۲۸ کشور عضو ناتو و ۳۰ کشور غیر عضو ناتو، شرکت نموده بودند. ...

بقیه در صفحه ۴

بارک اوباما:

نیروهای افغان تنها ګذاشته نخواهند شد

ما هدف را برای نیروهای امنیتی افغان تعیین خواهیم کرد، که رهبری مسوولیت ها را در سال آینده به دوش ګیرند و قوای آیساف نقش حمایتی را اخذ کنند

کابل، رسانه ها:
بارک اوباما رییس جمهور امریکا در اجلاس ناتو در شیکاګو در مورد توانایی های نیروهای افغان ابراز اطمینان نموده ګفت، این نیروها سال آینده کنترول کشور شان را به عهده ګرفته می توانند.
در حالیکه خروج تدریجی نیروهای ناتو از افغانستان جریان دارد و آنها مسوولیت های امنیتی را به نیروهای افغان تسلیم می کنند، رییس جمهور امریکا تعهد کرد که جامعه جهانی افغانستان را تنها نخواهد ګذاشت.
رییس جمهور اوباما به حدود ۵۰ رهبر جهان که در شیکاګو ګردهم آمده اند ګفت، با وجود ګرفتن مسوولیت های امنیتی، نیروهای افغان تنها ګذاشته نخواهند شد:
" توافقنامه همکاری های ستراتیژیک که من و رییس جمهور کرزی آن را در کابل امضا کردیم، این را واضح می سازد که با وجود ګرفتن مسوولیت های امنیتی توسط افغانها، آنها تنها ګذاشته نخواهند شد. ما امروز روی همکاری درازمدت ناتو با افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴ توافق نمودیم."
رهبران ناتو دیروز سند ختم ماموریت جنګی شان در افغانستان تا پایان سال ۲۰۱۴ را تصویب کردند.

بقیه در صفحه ۴

اوباما په کابل کې د امریکا سفیر له دندې لیرې کوي

کابل، رسانه ها:
د امریکا د جمهور رییس بارک اوباما ادارې پرېکړه کړې چې په افغانستان کې خپل سفېر ښاغلی راین کراکر په راتلونکی میاشت کې لیرې کړې او پر ځای د هغه مرستیال جیمز کننګهام په دغې مهمې دندې وګماري.
تر اوسه نه ده څرګنده چې په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو سفیر راین کراکر چې د ډېر احترام وړ ډیپلومات دی، ولې له دندې لیرې کیږي او یا خپله دنده پرېږدي.
ښاغلی کراکر چې د ۲۰۱۱ کال د جولای میاشت کې له تقاعد څخه په کابل کې د امریکا د سفیر په دندې وګمارل شو، په داسې حال کې یې په افغانستان کې د سولې ډیپلوماتیکې هلې ځلې چټکې کړې چې سپینې ماڼۍ خپل پام د ۲۰۱۴ کال په پای کې په دې هېواد کې د امریکایي ځواکونو کمولو ته اړولی او فکر کوي چې په دې کار سره به په افغانستان کې یو ځل بیا کورنی جګړه پیل نشي. ...

پاتې ۳ مخ

مرسته، خیرات او که نور څه ؟!

سید فضل مولا "لټون" دویم مخ

دُ ترهګرۍ جرړې د امریکا په پوځي اکاډمیو کې

محمد خلیل درېیم مخ

اثرات کنفرانس شیکاګو بر افغانها و منطقه

دوکتور محمد انور

کنفرانس شیکاګو پس از دو روز پایان یافت که در رابطه با افغانستان دو فیصله مهم با خود داشت، یکی آنکه مسؤولیت کامل عملیات های نظامی را تا اخیر سال ۲۰۱۳ نیروهای افغان بدوش می ګیرند دیګر اینکه نیروهای خارجی طبق تقسیم اوقات قبلی تا اخیر ۲۰۱۴ افغانستان را ترک می ګویند.
با آنکه صدور این قرارها برای افغانها خبر تازه در قبال نداشت اما توثیق آن از جانب اجتماع بزرګ ناتو که در تاریخ این سازمان نظیر نداشت برای همه جهان خاصتاً افغانستان و کشورهای منطقه خالی از اهمیت نبود. غوغای بزرګی که در رابطه با این کنفرانس براه انداخته شده بود و امیدهائی که یک عده افغانها خاصتاً شریک در حاکمیت موجوده القا می نمودند با فیصله های نهائی کنفرانس بی ربط مینماید، زیرا این سرمنشی ناتو بود که بالاخره تصریح کرد که در این اجتماع برای بحث روی کمک ها به افغانستان اجندائی وجود نداشت و آنهائی که ګمان می کردند حتی برای انکشاف اقتصادی، صنعتی زراعتی و اجتاعی و ... حاشیه ای وجود خواهد داشت. به ظاهر امر اثری از آن رونما نه شد با آنکه قوماندان قوای ناتو از آن پیغام هائی به جهت های مختلف القا می کرد اما آنچه در رابطه با نتایج و اثرات آن می توان اشاره کرد اینها اند:
خروج نیروهای خارجی از افغانستان برای آنعده افغانهائی که حضور سپاهیان تا دندان مسلح با آنهمه غرور و کبریا در جاده های وطن شان با قربانی هائی که خود و نیاکان شان برای یک افغانستان آزاد و آبرومند و عزیز داده اند در تضاد می یافتند. و آنهم که چنین نیروهائی هموطنان شانرا در نیمه شب ها به راپور مغرضانه، حسودانه، رقیبانه جهت های معلوم الحال حتک حرمت نموده و به زندان های در تصرف خود شان مورد تعذیب، شکنجه و سلب آزادی نموده بتوانند فخر آفرین مینماید. ...

بقیه در صفحه سوم

د ناټو مشرانو پر درو مهمو ټکو موافقه وکړه "راسموسن"

کابل، رسنۍ:
د ناټو عمومي منشي د شیکاګو د سرمشرۍ په پای کې یوې خبري غونډې ته وویل، په ۲۰۱۳ کال کې به د افغانستان امنیت افغان ساتي او د عملیاتو مشري به هم په خپله کوي.
ده دا له افغانستان سره د ناټو په ګډ سفر کې یو مهم ګام وباله.
ده زیاته کړه: "نن موږ پر درو مهمو ټکو موافقې ته ورسېدو؛ د ۲۰۱۴ کال په پای کې، چې زموږ ماموریت سرته رسېږي، د ماموریت بل پړاو، له ۲۰۱۴ وروسته د ناټو رول، او درېیم د افغان امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره زموږ ملاتړ."
د ناټو عمومي منشي اندریس فوګ راسموسن وویل چې افغان ځواکونو ته د امنیتي چارو د لېږد بهیر مخکې لا پیل شوی او اوس دا ځواکونه د افغانستان تر نیمایي په زیاتو برخو کې عملیات کوي.
راسموسن داړ څرګند کړ چې د راتلونکي کال تر نیمایي پورې به د ټول افغانستان د امنیتي چارو مسوولیت افغان ملي اردو او ملي پولیس په غاړه واخلي.
"کله چې افغان ځواکونه رامخکې ګامونه

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

په افغانستان کې امن راوستل د ګردې نړۍ ګډ مسؤولیت دی

پدې کې هېڅ شک نشته چې افغانستان د نړیوالو له سخاوتمندانه مرستو پرته پخپلو پښو نه شي ودرېدلې، او په دې اوسنیو شرایطو کې چې افغانستان د نړیوالو مرستو ته څومره زیات اړتیا لري بل هېڅ هېواد یې نه لري، ځکه چې د افغانستان ثبات او استحکام د ټولې نړۍ د ثبات او استحکام په معنی ده، که په افغانستان کې سوله ثبات او امنیت وي نو په سیمه او نړۍ کې به هم ثبات او امنیت قائم وي خو که الله مکړه په افغانستان کې د سولې او ثبات تګره راغونډه شي نو ددې له بدو اثراتو او ناوړو عواقبو نه به د نړۍ یو هېواد هم په امان کې پاتې نه شي نو ځکه په افغانستان کې د سولې او استحکام راوستلو مسؤولیت تقریباً د ګردې نړۍ پر غاړه ده.

دا د ګردې نړۍ پر مشرانو ده چې د افغانستان جغرافیوي موقعیت او دلته د سیمې او نورو مغرضو هېوادونو د رقابتونو په نظر کې نیولو سره پر داسې یو استراتیژي او ایجنډا کار وکړي چې افغانستان له ټولو شتو ګواښونو او ستونزو څخه راوباسي او یو داسې حالت ته د رسولو کلک هوډ وکړي چې راتلونکې لپاره هېڅاته د حلوا نرمه نوړۍ جوړه نه شي، هېڅوک ونه توانېږي په افغانستان کې لاسوهنې وکړي او د سیمې او نړۍ د ثبات د ګډوډولو فرصت ترلاسه کړي، دا مقصد هله ترلاسه کېدلې شي چې د نړۍ ځواکمن او په اقتصادي لحاظ غښتلي هېوادونه د افغانستان د ښه مستقبل په اړه یوه اوږدمهاله پلان جوړ کړي او د ژوند په هر ډګر کې ورسره په پراخه کچه د مرستو دروازې ورته پرانیزي، د ژوندانه ټولې بنسټیزې او حیاتي اړتیاوې ورته پخپل هېواد کې د پوره کولو ژمنه وکړي، له ټولو هغو اړتیاو او محتاجیو څخه دې ورته نجات ورکړي چې هره ورځ ورسره لاس او ګرېوان دي، ځکه چې تر څو پورې افغانان د ژوندانه په ضروریاتو کې د نورو هېوادو له ګدایي نه نجات ترلاسه نه کړي نشي کولې دهغوی له اثراتو او اغیزونه مستغني شي او دهغوی د ګټو لپاره استعمال نه شي.

د امریکا په شمول ټولې نړۍ ته پته ده چې افغانستان د ګاونډیو، د سیمې او ګڼو نورو مغرضو هېوادو د ګټو د رقابت ډګر ګرځېدلی او ددغو ناروا رقابتونو له کبله افغانان دهغوی له خوا د بل شوې اور په لمبو کې سوځېږي، سر او مال د افغانانو تباه کېږي او ګټې هغه څوک ترلاسه کوي چې افغانستان یې د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره د رقابت ډګر ګرځولی دی. که افغانان په پوځي او اقتصادي مډ کې پخپلو پښو ودرېږي او د خپلې خاورې د دفاع او د خپل ولس د اړتیاو د پوره کولو وړتیا پیدا کړي نو له څه شک پرته افغانستان د امن او ثبات په داسې ډګر بدلېدلی شي چې بیا لپاره به له دې ځایه د بې ثباتي او د نړیوالې ترهګرۍ خطر تل لپاره ختم شي.

په افغانستان کې چې د څو لسیزو جګړو راهیسې کومې تشې او نیمګړتیاوې پیدا شوي دي دا داسې نه دي چې ډکې نه شي بلکې هره یوه یې ډکېدلې او رغیدلې شي خو ددې د ډکېدو لپاره نړۍ واله پاملرنه او صمیم عزم غواړي، افغانان غواړي چې له خپل لویدلي حالت نه ډېر ژر پخپلو پښو ودرېږي خپل تېر برم او افغاني غرور بېرته ترلاسه او د عزت او وقار ژوند وکړي، هغوی ددې اراده نه لري چې موږ دې ټول عمر د بل چا د اوږو بار شو، تل د بل چا په مرستو او خیراتونو د ذلت ژوند وکړو بلکې دهغوی ستر ارمان دا دی چې نړیوال دې لږ تر لږه له موږ سره خپل انساني مسؤولیت تر دې کچه ترسره کړي چې له لویدلي حالت نه مو پورته او د خپل ژوند د تېرولو لپاره د ګامونو د پورته کولو جوګه کړي تر څو وتوانېږو د خپل راتلونکې لپاره کلک تصمیم ونیسو، تعلیم او پوهه ترلاسه کړو، کسب، کمال او مهارتونو ته مخه کړو، خپل اقتصادي پیاوړې کړو او د ژوند په هر ډګر کې خود کفا شو.

که د افغانستان د غیرتي ولس بچیانو ته لږ غوندې هم فرصت پیدا شي نو د خپل قابلیت او وړتیا له مخې کولې شي چې په ډېر لږ وخت کې د نړۍ د پرمختللیو اقتصادي هېوادو په قطار کې خپل ځای پیدا کړي. د افغانستان خاوره له قیمتي ذخائرو نه ډکه او ځوانان یې د غوره قابلیتونو درلودونکي دي که په دې هېواد کې د بدامنی لمنه راغونډه او ځوانانو ته د علم او مهارتونو د زده کولو فرصت په لاس ورکړی شي نو په بشپړ یقین ویلي شو چې د څو کلونو په اوږدو کې به افغانستان په یوه داسې اوسپنیزې غښتلي کلا بدله شي چې ددې خاورې دښمنان به ټول عمر پخپلو شومو پلانونو کې مایوس او خجالت پاتې شي.

اوس نو د امریکا او ناټو غړو هېوادو په شمول د ټولو هېوادو مشرانو کار دی چې هغوی د افغانستان په اړه پر حقایقو ولاړې فیصلې کوي او که یو ځل بیا له حقایقو نه د ستر ګو په پټولو داسې احمقانه سرسري لاره پرمخ وړي چې د نن نه شل کاله وړاندې یې د افغانستان په اړه خپله کړې وه او افغانستان یې داسې له یاده ویستلی وه چې بالاخر د خپل ددغه غفلت د بدو عواقبو مزه یې هم وڅښله.

د نړۍ د سترو اقتصاد لروونکو هېوادو چارواکي دې له دې واقعیت نه ستر ګې پټې نه کړي چې افغانستان د آسیا زړه ده که د آسیا د زړه د ساتلو لپاره ګډې هلې ځلې ونه شي او دلته د مغرضو هېوادو له خوا د کرل شویو د فساد د بوټو جرړې له بیخه ونه ویستل شي نو ګرده اسیا به لدې فساده د اغیزمن کېدو نه هېڅوک ونه ژغورل شي چې بالاخر د آسیا په څنګ کې پراته اروپایي هېوادونه به هم د فساد له دغه طوفان نه به امن کې پاتې نه شي او په دې توګه به ګرده نړۍ د امن ساه وانخلي، ښه به دا وي چې پیاوړی اقتصاد لرونکو هېوادو چارواکي دې په افغانستان کې د امن او ثبات د تأمین او اعادې لپاره بې غرضه کومکونه وکړي تر څو افغانستان ددغو مرستو په نتیجه کې د امن کور وګرځي او په لنډه موده کې د ژوند په ګنو ډګرونو کې پخپلو پښو د ودرېدو په صورت کې د نورو هېوادو له محتاجۍ نه بې نیازه او پخپله د مرسته کوونکو هېوادو په قطار کې شامل شي.

مرسته، خیرات او که نور څه ؟!

سید فضل مولا "لټون"

د ۱۳۹۱ هـ لمریز کال د غبرګولي د میاشتې په لومړۍ نېټه د امریکا د متحده ایالاتو د صنعتي ښار په شیکاګو کې د تقریباً شپېته هېوادونو ترمنځ په ځانګړې ډول د افغانستان او په عمومي ډول د نړیوالو مسایلو په باب نړیواله غونډه وشوه، چې زیاتره ګډون کوونکي هېوادونه یې د ناټو او ددغه سازمان پورې اړوند هېوادونه دي.

خبري رسنۍ وایي چې د شیکاګو په ښار کې دا تر ټولو ستره غونډه وه، چې په زرونو امنیتي ځواکونه یې د امنیت لپاره توظیف شوي وو، خو ددې ترڅنګ د امریکایي ولس له لورې د افغان جنګ او ددغه جنګ له امله د سرونو او اقتصادي زیانونو پرخلاف مظاهرې او لاریونونو هم جریان درلود.

په دې غونډه کې د امریکا متحده ایالات هڅه وکړه چې تر ۲۰۲۴ میلادي کال پورې د افغان امنیتي ځواکونو لپاره د کال ۱، ۴ میلیارد ډالرو خبره کره کړي، او هم د غونډې له ګډون والو ژمنې ترلاسه کړي چې د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې او پیاوړتیا ترڅنګ د افغانستان د سولې او اقتصادي ودې او پرمختیا لپاره هم په ګډه کار وکړي.

د شیکاګو په غونډه کې د پاکستان جمهور رئیس آصف علي زرداري هم ګډون درلود، چې د ناټو د اکمالاتي لارې د پرانستل کېدو غوښتنه ترې وشوه چې شپږ میاشتې دمخه یې د افغانستان په خاوره کې د څلورویشت پاکستاني پوځیانو د وژل کېدا له امله د احتجاج په توګه تړلې وه.

دا او دېته ورته نور ډېر داسې موضوعات وو چې د شیکاګو په غونډه کې پرې خبرې وشوې او یو لړ پرېکنده پرېکړې پکې هم وشوې.

د افغان امنیتي ځواکونو او دولت د ژمنو په باب د دوشنبې په شپه د بهرنیو چارو وزارت ویاند ښاغلي جانان "موسی زی" رسنیو ته وویل چې د شیکاګو په غونډه کې کېدونکې مرستې افغانانو ته خیرات نه دی، بلکې که افغانستان له ۲۰۱۴ میلادي وروسته د تېر په شان همداسې یواځې پرېښودل شي، له دې نه به یو ځل بیا سیمې او نړۍ ته د ترهګرۍ یوه ستره خطره راولاړه شي، بلکې دا پر نړیواله ټولنه د افغانانو حق دی چې افغان دولت لاپسې تقویه کړي چې په اصطلاح د ترهګرۍ ضد جګړه پای ته ورسېږي او نړیوال د امن او آرامۍ ساه واخلي.

د ښاغلي موسی زی له وینا سره ماته څو ورځې دمخه د متحده ایالاتو په یوه غونډه کې د جمهور رئیس اوباما د پخواني سلاکار هغه خبره رایاده شوه چې ویل یې "افغانان باید یواځې پرې نه ښودل شي ځکه څه دپاسه دېرش کاله کېږي چې افغانان زموږ د ګټو لپاره وینې تویوي".

اوس خبره داده چې آیا رښتیا هم متحده ایالات افغانانو ته خیرات ورکوي، که دا مرستې پر نړیواله ټولنه زموږ حق دی او که د پردې تر شاه نور څه هم شته؟

دا به ومنو چې نړیوالې ټولنې په تېرو لسو کلو کې له افغانانو سره ډېرې مرستې کړې دي، او له افغان مسلمان ملت سره یې د دولت په رامنځته کېدو، د ملي امنیتي ځواکونو په جوړولو او د پرمختیایي پروژو په پیل کولو کې ډېرې بېسنې کړې دي.

خو اوس خبره دا ده چې افغان حکومت په پرله پسې توګه د نړۍ له هېوادونو او په ځانګړې توګه د ناټو د غړیو ځواکمنو هېوادونو سره په پرله پسې ډول ستراتېژیک تړونونه لاسلیکوي، چې د افغانستان په ګاونډیو هېوادونو کې یې د وېرې ترڅنګ حساسیتونه راپارولي دي، چې ځینې یې لکه ایران او پاکستان په څرګنده ددغو ستراتېژیکو تړونونو په باب خپلې اندېښنې د احتجاج تر بریده وړاندې کوي، او ځینې نور یې بیا لکه چین او روسیه تر اوسه پورې په دې باب غلي پاتې دي.

پوښتنه دا ده چې د متحده ایالاتو او ناټو د غړیو هېوادونو په دومره قوت او د بین المللي اصولو له مخې روا شتون به د سیمې هېوادونه د ځانونو په ضرر ونه بولي او دا اوسنی استخباراتي جنګ به لاپسې شدت ونه مومي؟

بله پوښتنه چې باید مطرح شي هغه داده چې افغان امنیتي ځواکونه به ددغه ظاهراً ساړه او په باطن کې تاوده جنګ مقابله په یواځې ځان وکړای شي؟

ددې ترڅنګ دا هم باید ووایو، چې که خدای مه کړه جنګ هم همداسې دوام ومومي او ورسره د هېواد په دننه کې دا روان ژبني، توکمیز او سیمه ییز لړیوالی او کشمکشونه هم وي د افغانستان راتلونکی به څه وي؟

زموږ له نظره باید افغان دولت تر هر څه ړومبی د یوه واحد ملت د جوړولو لپاره خپلې ټولې هڅې په کار واچوي او هغه څوک چې د دا ډول اختلافاتو اور ته لمن وهي له هغو سره کلک خو قانوني برخورد وکړي. کېدای شي چې نړیوالې ژمنې د افغانانو لپاره ګټه وکړي.

د صاحب منصب د ځپېړو باران!

عبیدالله صافي

په انساني کارونو کې تېروتنې او سهوې ضرور ترسره کېږي، په نړۍ کې داسې هېڅوک نشته چې له هغه نه سهوه یا اشتباه ونه شي، ځینې وخت خو یو انسان د خپلې سهوې په نتیجه کې خپل ژوند هم له لاسه ورکوي او د خپلې کورنۍ ژوند هم، چې ډېرې بېلګې یې زموږ په وړاندې دي. خو ډېر افسوس چې په افغانستان کې د زور خاوندان د چا سهوې او تېروتنې هم نه شي زغملی او تر هغه یې زړه نه صبرېږي تر څو چې په وهلو وهلو زړه وریاندې یخ نکړي. دلته په افغانستان کې غټه ستونزه داده چې زورواکونو ته خپل لوی لوی قصدي ګناهونه هم په نظر نه راځي خو د بل چا وړه سهوه ورته دومره غټه ګناه ښکاري چې له وهلو او ستغو سپورو ویلو پرته یې تږ نه یخېږي.

تېره اونی سروبي بازار ته څېرمه په سړک باندې روان یو کاستر او ملي اردو داړسن پخپلو کې سره دومره معمولي وسولېدل چې په کاستر کې ډېرو ناستو سورلیو ته هم دا پته ونه لګېده چې ګویا زموږ ګاډی لا له بل ګاډي سره لګېدلی دی، بازار ته د ننوتو په وخت ډرېور خپل ګاډی ودراوه، کوز شو او سېده برۍ خواته لاړ، ګورم چې د ملي اردو ګاډې ولاړ دی له هغه نه یو برګې دریشی والا صاحب منصب راکوز شو او پر ډرېور یې د څپېړو باران جوړ کړ، بېچاره ډرېور دهغه څپېړو ته داسې غلې ولاړ و ته به وایې چېرته په ترهګرۍ کې نیول شوی دی. کله چې ګاډي ته وخوت او شېړنګ ته کیناست نو یو خو د وهلو له کبله مخ یې تک سور شوی و او بل د قهر نه لاسونه او پښې یې دومره رېږدېدلې چې ان د ګاډي د چلولو توان یې له لاسه ورکړی ؤ. پوښتنه مې وکړه افسر په څه ګناه دومره ووهلې؟

راته یې وویل: له تونل نه چې ووتلو نو په موړ کې د تاوېدو په وخت د ملي اردو داړشن او زما ګاډی سره معمولي غوندې له یو بل سره ولګېدل، په ښیښه کې مې کتل چې خپل داړسن یې راتاو کړ او راپسې راغې، ما هم ګاډې ودراوه او ورته کوز شوم هغه چې له ماسره کوم سلوک وکړ او څه یې راته وویل هغه تاسو پخپلو ستر ګو ولیدله.

ملامت زه نه همغه و، خو زه کمزورې وم ځکه مې وهل وخوړل.

تر کابله پورې ډرېور بې چرته و، او بار بار به یې خپلې وچولې ته زور ورکاو، کله کله به یې ساړه اسوېلي ویستله او اسمان ته به یې کتل.

د ملي اردو افسر ددغه حرکت په لیدو زه هم تر کابله په چرت کې تللې وم او دې خبرې خورولم چې دغه افسر ولې قانون په لاس کې واخیست، د ترافیک د قانون خیال یې ولې ونه کړ؟ د نړۍ په هر هېواد کې چې موټرې ګرځي هلته د ترافیک اصول هم شته او قانون هم، یواځې ترافیک حق لري چې ملامت مجازات کړي خو په افغانستان کې هر څه د زورواکانو په واک کې دي، یو صاحب منصب چې اصلاً د خاورې او ولس د حفاظت دنده په غاړه لري ددې پر ځای چې د قانون محافظ جوړ شوی وای په ډېر تکبر او غرور سره یې د ډرېور مخ د څپېړو په پرله پسې وار سره وپرځاوه، هغه بېچاره ته‌هم له صبر پرته بله چاره نه وه ځکه چې د شکایت لپاره ورته داسې مرجعه نه وه چې فریاد یې اورېدل شوی وای او د حق او باطل تر منځ په حق او عدالت فیصله شوې وای.

په زړه کې مې ویل: صاحب منصب خو به خوشحاله وي چې توره مې وکړه او ډرېور ته مې ښه کره کې عسکري څپېړۍ ورکړې او ورسره ناست ملګری به یې هم دهغه څپېړې ستایي او ورته به وایي چې له دې وروسته به ستا څپېړو د ډرېور عقل پرځای کړې وي، که انسان وي بیا به کله هم بې احتیاطي نه کوي، خو ما چې د ډرېور پریشانۍ او خپګان ته کتل نو په ګاډي کې ناست د سورلیو ژوند ته مې سودا و چې هسې نه د ډرېور فکر دیوې شیبې لپاره د صاحب منصب د څپېړو د صحنې په لور پر اوړېدو ګاډی لاندې سیند ته ګوزار نه کړي او په دې توګه په کاسټر کې ناست د سورلیو ژوند د صاحب منصب د خرمستیو قرباني نشي.

د ترهګرۍ جړې د امریکا په پوځي اکاډمیو کې

محمد خلیل

تېره اونۍ د امریکايي پوځ مشر مارټن ډیمپسي پخپلو څرګندونو کې وویل چې د امریکا په حربي پوهنتونونو کې د اسلام او مسلمانانو په خلاف یو درسي نصاب ښودل کېږي تر څو دهغوی ذهنونه له همدې اوس نه دېته چمتو کړي چې د مسلمانانو د له منځه وړلو لپاره پر مکه مکرمه او مدینه منوره هم اتومي یرغل کېدلې شي، د اطلاعاتو مطابق د امریکا په پوځي اکاډمیو کې د اسلام ضد نصاب د تېرو اتو کلو راهیسې تدریس کېږي، خو دا چې امریکايي جنرال اوس لدېنه پرده پورته کوي دا نو په دې معنی ده چې امریکا نور مسلمانانو ته د یو څرګند پیغام له لارې خبرداری ورکوي چې لدېنه وروسته زموږ دښمني په پټه نه بلکې په څرګند ډول به پرمخ ځي.

امریکايي پوځیانو چې په افغانستان او عراق کې له بې ګناه مسلمانانو سره کوم ناروا سلوک کړی دی هغه ټول ددغې ادعا د ثبوت لپاره بالکل کافي دي او په دې خبره پخپله ګواهي ورکوي چې په امریکا کې دهغوی روزنه او پالنه په داسې کړښو شوې چې د مسلمانانو وینه، دهغوی مقدس کتابونه او عبادت ځایونه هغوی لپاره هیڅ اهمیت نه لري ځکه خو هر چېرته یې چې مخه کړې یا خو د بې ګناه سپین ږیرو، زنانه و او ماشومانو په وینو خپل لاسونه سره کړي او یا هم د قرآن کریم او مسجدونو بې حرمتي کړې، که چېرته له وړاندېنه د مسلمانانو او د هغوی د مقدسو کتابونو او عبادت ځایونو په خلاف دهغوی په زړونو کې د کرکې او نفرت اور نه وای بل کړی شوې نو هغوی به داسې کارونه ولې کول، د خپلو وسله والو مخالفینو پر ځای به ملکي بې ګناه وګړي ولې وژل، د مسلمانانو پر لاشونو به د متیازو کولو جرئت ولې کاو، د زانګو ماشومان به یې ولې په سپیانو داړل، تنکي او نابالغه هلکان به یې ولې د خپلو وسلو په مرمیو غلبیل کول، په زمکه کې بوخت دهقانان به یې ولې وژل، له ځان سره د ساتلو په خاطر به یې له خلکو لاسونه، ګوتې او پښې ولې غوځولې، د افغانستان په ګڼو ځایونو کې د قرآن کریم د سوځولو جرئت به یې ولې کاو، پوره پوره کلي به یې ولې ورانول، د واده جنجونه جرګې او میلې به ولې بمباري کولې، د سورلیو په ډکو ګاډو او موټرو به ولې ډزې کولې؟ په نیمه شپه به د یو کلي لسګونه بې ګناه ماشومان، بوډاګان او سیاه سري ولې وژل، د بګرام په بندیخانه کې به پر عافیه صدیقې ولې جنسي تیری کاو، له بندیانو نه به یې جامې ولې ویستلې، دهغوی ږیرې او بریتان به ورته ولې خریل؟ دا ټول هغه کړنې دي چې له اسلام، مسلمانانو او مقدسو ځایونو سره د امریکايي پوځیانو د دښمنۍ او کرکې څرګند ثبوتونه وړاندې کوي. مګر ددغو ټولو کړغېړنو او غیر انساني کړنو باوجود بیا هم امریکايي مطبوعات او رسنۍ شپه ورځ لګیا دي مسلمانان او اسلام د بشر ضد په کړنو او سخت دریځتوب تورنوي په داسې حال کې چې د اسلام سپېځلی دین له ګرد بشریت سره د سولې او امن په فضاء کې د اوسېدو تأکید کړی دی او مسلمانانو ته یې لارښوونه کړې چې یواځې له هغو خلکو سره جګړه وکړئ چې ستاسې د قتل لپاره میدان ته ورداننګلي وي او کوم وګړي چې له تاسو سره د سولې په فضاء کې ژوند تېرول غواړي له هغوی سره سوله ییز ژوند وکړئ. د اسلام سپېځلی دین خو مسلمانانو ته دا لارښوونه هم کړې چې د چا دین او مذهب ته کنځلې هم مه کوئ که چاته ددین بلنه ورکوئ نو هغه هم باید په ډېر حکمت او ښو الفاظو سره وي، او که چېرته له غیر مذهبو سره څه بحث او مباحثه کوئ نو په مدللو دلائلو او قناعت بښوونکو خبرو سره د خپلې عقیدې دفاع کوئ.

اول خو د اسلام سپېځلی نظام، د دین، مذهب، نسل، رنګ، ژبې او خاورې په بنیاد جنګ حرام ګرځولی دی او چېرته هم ددې اجازه نه ده ورکړې چې له اسلام نه منکر خلک د تورې او وسلې په زور مسلمان کړئ ځکه چې الله جل جلاله د (لا اکراه فی الدین) په فرمایلو سره تر قیامته ددې خبرې ممانعت کړی دی چې له اسلام نه منکر خلک دې په زوره د اسلام منلو ته اړ وویستل شي، البته پر مسلمانانو یې دا ضروري ګرځولی ده چې د الله تعالی دین دې د ګردې نړۍ انسانیت ته ورسوي، که چا پخپله خوښه د زړه له تل نه ومانه ډېر ښه، که نه الله پوهېږي او حساب یې. لوی الله په قرآن کریم کې او محمد صلی الله علیه وسلم په خپلو احادیثو کې د جهاد او قتال حدود او قیود هم بیان کړي دي او فرمایلي یې دي چې کله ستاسې او له دین نه منکرو کفارو ترمنځ د جهاد میدان ګرمه شي نو یواځې هغه خلک ووژنئ چې له تاسو سره په جنګ کې لګیا دي او هغو وګړو ته بالکل نقصان مه رسوئ چې هغوی له تاسو سره په جنګ کې درګیر نه دي. مثلاً ماشومان، بوډاګان، زنانه، په عبادت خانو کې ناست عبادت کوونکي، ګوډان، شلان، ړانده او نور معلول وګړي، همداراز دهغوی د ګرجاګرو معبدونو، فصلونو، باغونو، څارویو او نورو عام المنفعه شیانو د ورانولو سخت ممانعت کړې دی.

په جنګ کې د وژل شویو مړو مثله•کول او دهغوی لاسونو، پښو، غوږونو او پوزې پرې کول وریاندې حرام ګرځولي دي. همدغه راز کله چې اسیران ونیول شي نو دهغوی د عزت او آبرو خیال ساتل او مناسبه غذا ورکول پر مسلمانانو لازم ګرځولي دي. دا یواځې تشې خبرې نه دي بلکې تېر تاریخ په دې ګواهي ورکوي چې د مسلمانانو د ښه سلوک له کبله ډېر اسیران مسلمانان شوي هم دي چې له روسیانو سره د جګړې پر مهال د لسګونو په حساب د روسي پوځونو او د طالبانو پر مهال په ننګرهار ولایت کې بندي شوې د ایوان ریډلي مسلمانېدل ددغې ادعا څرګند ثبوتونه دي.

که امریکا واقعاً په نړۍ کې خپل نوم ښه کول او له بشریت سره د بشر په چوکاټ کې ژوند تېرول غواړي او په واقعي معنی هر انسان ته خپل قدر او قیمت ورکولو ته چمتو ده نو بیا ورته پکار دي چې د خپل بشردوستي شعار ته حقیقي رنګ ورکړي او د خپلې باداری د قائمولو پر ځای دې د ټول بشریت د خېر ښېګړې لپاره عملي ګامونه پورته کړي، تاریخ ثابته کړې چې په زوره کلې نه کېږي هر چا چې د زور لاره نیولې د نړۍ د امن له تباه کولو او انسانیت ته له زیان رسولو پرته بل هیڅ یې نه دي ترلاسه کړي، که هلاکو خان، چنګیز خان، مسولیني، هتلر، ستالین، لینن او برژنف د خپلو متکبرانه او ظالمانه کړنو په نتیجه کې نړۍ ته له ستونزو او تباهي پرته بل څه ورنکړ نو امریکا به د خپلو دغو پراختیا غوښتنو او له تعصب نه ډکو پالیسیو په نتیجه کې به د نړۍ له انسانانو سره له هلاکت پرته بل څه ښېګڼه ورکړي آیا دا به ښه نه وي چې د نړۍ ټول ولسونه د بشریت په چوکاټ کې یو بل ته د صمیمیت په فضاً کې د ژوند تېرولو حق ورکړي او خپل هغه مال، دولت او استعداد چې د یو بل د محوه کولو لپاره ضایع کوي د یو بل د خیر، عافیت او ګټو لپاره پکار واچوي؟ افغانان د خپلې ددغې اسلامي عقیدې له مخې چې هر بشر د الله بنده دی او د بشریت په چوکاټ کې ورسره د ژوند په ټولو ځانګو کې د امن او سولې په فضاً کې د ژوند تېرولو ورته اجازه ورکړی ده له امریکا او د نړۍ له ټولو وګړو سره د متقابله احترام پر بنسټ د خپل دیني او ملي استقلال د ساتلو ترڅنګ ژوند تېرولو ته چمتو دي.

اثرات کنفرانس شیکاگو بر افغانها و منطقه

(ادامهء از صفحه اول)

برای آنعده از مخالفین مسلح که بجز جنگ و ویرانی به چیز دیگری نمی اندیشند و آماده اند تا سرحدی که وطن و هموطنان شان پامال امیال شوم و خرابکارانه همسایگان و کشورهای منطقه هم گردد. راه دیگری را نمی شناسند به امید موهوم حاکمیت یکطرفه و مطلقه شان بدون توجه به تجربه تاریخ نزدیک مجاهدین و سالهای جنگهای داخلی دهان شیرین مینمایند. خبر خروج نیروهای خارجی نوید رسیدن به سلطه را به آنها القا می نماید.

کشورهای همجوار ما خاصتاً آنهائی که در ساده لوحان آزمند به قدرت این سرزمین نفوذ دارند طمع آن زنده خواهد شد که زمانی حضور فعال یکصدو سی هزار نیروهای خارجی نتواند شر آنها را از این کشور دفع نماید پیمان های استراتیژیک روی کاغذ چه کاری را از پیش خواهد برد، بار دیگر افغانستان را جولانگاه تاخت و تاز مستقیم شان خواهند ساخت. در حلقات خاص خود شان جشن صدور این فیصله نامه ها را خواهند گرفت.

عامه مردم افغانستان که بالغ بر سی سال را زیر سرنیزه قوای متجاوز شوروی، مظالم ستالین منشانه تره کی، امین، ببرک، نجیب، جنگ های داخلی مجاهدین، شدت و خشونت طالبان، چه در زمان حاکمیت شان و چه در مقابله با نیروهای خارجی زمانی آنها را آواره داخلی، گاهی مهاجر کشورهای همسایه و یا پامال گاردهای امنیتی سرحدات اروپا و امریکا و آسترالیا گردانیده در بیم آن اند که بار دیگر به چه سرنوشتی مواجه خواهند شد.

دولت مردان افغان که ده ونیم سال حاکمیت موجوده را غنیمتی برای دست یابی به ثروت و امتیاز یافته بودند و طی آن فرزند ملاصاحب فقیرومعلم صاحب محروم، مالک ملیونها دالر امریکایی، بلند منزلها، فابریکه جات و تجارت جهانی درکابل، شهرهای بزرگ افغانستان و جهان گردیده اند، در پی تسریع تلاشهای مافیائی بیشتری گردیده و بجای اصلاح آوردن در زندگی شخصی و تصرفات رسمی و ویزه های اقامه معتبرتر از پنجسال را به جوازنامه های سفرخود، خانواده و وابستگان شان درج مینمایند تا اگر حامیان خارجی آنها نباشد، خود و ثروت شان رامحفوظ انتقال داده باشند.

نیروهای دفاعی و امنیتی افغان که سلاح های بی کیفیت برای دفاع از خود و وطن در دست دارند، مظلومانه از اینکه همه ذخائر به ارث رسیده از نیروهای شوروی وقت را حیف و میل شده کشورهای همسایه از معامله گری های جنایتکارانی در لباس مجاهد می یابند که اکنون بدست مخالفین است تا به دست آنها و سلاح اردوی افغانستان که در میان گروپ های جهادی توزیع گردیده بود بدست نیروهای ائتلاف بین المللی بمبارد، تخریب و حریق گردیده و آنکه سلاح مدرن و مجهز و وسایل نظامی کارآنه در دست دارد با همه ساز و برگ آنها را ترک می گوید و جای هزاران تانک، زره پوش و طیارات پیشرفته روسی اردوی افغانستان ویران شده را چند وسیله زرهی بشکل کار دستی می گیرد، در حیرت اند. آینده بر آنها چه خواهد آورد در حالیکه نیروهای نظامی تمام عیار بین المللی نتواند مخالفین مسلح را مهار کند اکنون که این نیروها همه امکانات را با خود برده و وسایل اندک و ناچیز و محدود را به افغانها خواهند گذاشت، با میراثی از دشمنی، نفرت و نفاق از حاکمیت ده ساله و با بی دسترسی به وسایل مجهز چه خواهند کرد. قوای دفاعی و امنیتی وطن از نظامی که نتوانسته است طی بیشتر از ده سال در کشور صلح عادلانه برقرار نماید و زبان آشتی با هموطنان خود را بیابد و فساد گسترده ایکه دامن گیر همه ارگانها گردیده و حتی نمایندگی های ملل متحد و یاران و مدد رسان بین المللی هم گردیده است چگونه با کدام روحیه دفاع کند؟

بهر حال شاید کنفرانس شیکاگو بتواند زمینه تبلیغاتی مفیدی برای کمپاین انتخاباتی دور دوم رئیس جمهور اوباما فراهم آورد. اما برای آینده کشور ما که ناتوانی نظام حاکم موجوده و سی و چند سال جنگ و بحران دست ما را به کشورهای خارجی دراز ساخته اطمینان خاطری به سکان این سرزمین باخود نداشته است.

هغه چاته به ویزه ورنه کړو...

افغانستان په اړه خپل نظر نه وي بدل کړی، افغانانو او د افغانستان اساسي قانون ته یې درناوی نه وي کړی، افغانستان ته به پرې ننبوول شي.

د اپریل د میاشتې په بیل کې ډانا روهرابکر، چې د استازو جرګې د بهرنیو اړیکو د فرعي کمېټې رییس هم دی، غوښتل چې له دوبۍ څخه کابل ته لاړ شي خو ویزه ورنه کړای شوه او پرې ننبودل شو چې په الوتکه کې کېنې.

افغان چارواکو روهرابکر د افغانستان د ملي یووالي ضد بللی خو روهرابکر وایي چې د افغانستان په حکومت کې یې د پراخ فساد پرضد ږغ پورته کړی دی.

روهرابکر د کانګریس له څو نورو غړیو سره د روان کال په جنورۍ کې له یوشمېر افغان تنظیمي مشرانو سره په برلین کې د افغانستان پر فدرالي کېدو او حتي وېشل کېدو خبرې کړې وې. ده تېره میاشت د پاکستان د بلوچستان د تجزیه کېدو غوښتنه هم کړې وه.

اوباما په کابل کې د امریکا...

ښاغلی کراکر د هغوجګ پوړو امریکايي چارواکو په ډله کې و؛ چې په شیکاګو کې د ناټو په مشریزې غونډې کې یې د افغانستان د راتلونکي په اړه خبرې وکړې. د ناټو په غونډې کې زیات شمېر لویدیځو مشرانو یو ځل بیا خپل هغه پلانونه په ډاګه کړل؛ چې غواړي د ۲۰۱۴ کال په پای کې به له افغانستان څخه خپل عسکر وباسي او امنیتي مسوولیتونه به افغانانو ته سپاري.

اصلاً په افغانستان کې د ښاغلي کراکر دنده ډېره ګرانه او ستونزمنه وه او هغه هم په داسې حال کې چې د واشنګټن او حامد کرزي ترمنځ اړیکې په ظاهر کې خراب شوي وو. ده به په افغانستان کې د اداري فساد او بې وزلۍ پرضد د مبارزې چارې هم څارلې.

ښاغلي کراکر هغه مهال چې طالب وسله والو په کابل کې د امریکا پر سفارت او د لویدیځو هیوادونو پر هدفونو حملې کولې، ډپلوماټان یې ښه رهبري کړل، دغه راز یې له افغان حکومت څخه په ټینګه وغوښتل؛ چې بدلونونه رامنځ ته کړي او په دې توګه په راتلونکي کې د بهرنیانو د میلیاردونو ډالرومرستي جارې وساتي.

د رویټرز په وینا، په ۲۰۱۱ کال په کابل کې د کراکر په ټاکنې سره جمهور رییس اوباما غوښتل؛ چې د افغانستان جګړې ته د نورو منابعو د جلبولو په مقصد د خلکو پام ور واړوي او په دې هېواد کې د امریکا ماموریت پای ته ورسوي.

د راین کراکر د لیرې کېدو خبر په داسې وخت کې خپور شو؛ چې په اسلام آباد کې د متحده ایالاتو سفیر "کامرون منټر" خپلو کارکوونکو ته ویلي چې دی به په څو راتلونکو میاشتو کې خپله دنده پرېږدي.

د جمهور رییس اوباما له اداري څخه د جګ پوړو کسانو د لیرې کېدو په لړ کې د امریکا د بهرنیو چارو په وزارت کې د منځني ختیځ د چارو سلا کار وجیفري فیلټمان، هم خپله دنده خوشې کړې او وایي، په ملګرو ملتونو کې یې ښه کار ځانته پیدا کړی دی.

ښاغلی کراکر له ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۰۹ کاله پورې په عراق کې د متحده ایالاتو د سفیر دنده تر سره کړې او هغه مهال عراق ته د اضافي عسکرو په استولو سره فرقه یې جګړې کمې شوې او د ده شهرت ته یې ګټه ورسوله.

ده دغه راز په پاکستان، سوریې، کویټ او لبنیان کې د امریکا د سفیر په دندو کار کړی دی.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

الن: ښایي په افغانستان کې جګړه دوام وکړي

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې لیکلي، په داسې حال کې چې د شیکاګو د سرمشریزې ګډونوال دې اعلان ته تیاری نیسي؛ چې افغان ځواکونه به د ۲۰۱۳ کال تر نیمایي په افغانستان کې د پوځي عملیاتو مشري په غاړه اخلي او د ۲۰۱۴ کال تر پایه له دې هېواده وتلو ته تیاری نیسي؛ د هغه حالت په اړه هم خبرداری ورکوي؛ چې ولسمشر بارک اوباما، د اوس او هغه وخت ترمینځ، په مخکې پرتې سختې ورځې بللي دي.

ورځپاڼه د امریکا او ناټوځواکونو د عمومي قوماندان جنرال جان الن له قوله لیکي؛ چې وایي، زه نه غواړم په وړاندې پرتې ستونزې کم اهمیته وبولم، ځکه طالب ډېرزیات فعال دښمن دی.

جنرال الن وایي، په داسې حال کې چې نړیوال ځواکونه به په راروانو دوو، دوه نیمو کلونو کې په تدریجي ډول له افغانستانه وځي، د ده اټکل دا دی چې ښایي جګړه دوام وکړي.

کریسچن ساینس مانیټر ورځپاڼې د شیکاګو د سرمشریزې په وړاندې د طالبانو د دریځ په اړه لیکلي؛ چې د غونډې له پیل یوازې ځوساعته مخکې د طالبانو اصلي ویاند ذبیح الله مجاهد په یوه مفصل بیان کې د افغانستان د کړکېچ د ختم په مقصد سیاسي حل لارې ته د طالبانو د چمتووالي یادونه وکړه؛ خو پر ناټو یې دا تور هم ولګاوه، چې د سولې په خبرو کې زړه نازړه ده.

د طالبانو بیان زیاتوي، طالبانو د خبرو او د پوځي حل لپاره ټولې دروازې پرانیستې پرې ایښې. خو کریسچن ساینس مانیټر لیکي، دا طالبان وو، چې په مارچ میاشت کې، د بګرام په پوځي اډه کې د امریکایي پوځیانو له خوا د قرآنکریم د سوځولو له پېښې وروسته یې د سولې خبرې وځنډولې خو امریکا او ناټو په دې هېواد کې د جګړې د ختمولو لپاره خبرو ته دوام ورکړی.

لاس انجلس ټایمز ورځپاڼه لیکي، د شیکاګو دوه ورځنۍ سرمشریزه، چې د ناټو د درې شپېته کلن تاریخ تر ټولو ستره غونډه ګڼل کېږي؛ په داسې حال کې جوړېږي، چې امریکایي چارواکو د ناټو د اکمالاتي لارې د پرانیستو په برخه کې د پاکستان د انکار په خاطر خپله غوسه په ډاګه څرګنده کړې.

سپینې ماڼۍ هیله لرله چې د پاکستان او امریکا ترمینځ له دې کبله رامینځ ته شوی کړکېچ به، شیکاګو ته د ولسمشر بارک اوباما له رسېدو مخکې حل شي.

لاس انجلس ټایمز لیکي چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلیرې کلنټن او د پاکستان ولسمشر آصف علي زرداري د دې سرمشریزې په څنډه کې کتنه وکړه خو د سپینې ماڼۍ چارواکو له زرداري سره د اوباما د کتنې احتمال رد کړ.

ورځپاڼه زیاتوي، د ناټو عمومي منشي هم له زرداري سره کتنه کنسل کړه خو یادونه یې وکړه چې دا کتنه د ده د کتنو په پروګرام کې د ستونزو په خاطر کنسل شوه.

لاس انجلس ټایمز د امریکایي چارواکو له قوله لیکي چې وایي، دفاع وزیر لیون پنېټا په پام کې لري چې د منځنۍ آسیا د پنځو هېوادونو له چارواکو سره د ناټو د اکمالاتو د متبادلې، خو ډېرې قیمتي ترانزیتي لارې په اړه خبرې وکړي.

ماموریت ناتو بعد از سال ۲۰۱۴ در افغانستان تغییر میکند

کابل، رسانه ها:

به دنبال پایان یافتن نشست شیکاگو، کشور های عضو سازمان ناتو ماموریت جدید را در افغانستان اعلان کردند که پس از سال ۲۰۱۴ به اجرا گذاشته خواهد شد.

این ماموریت در حالی قرار است آغاز شود که در آن زمان مسوولیت کامل تامین امنیت افغانستان به دوش نیروهای امنیتی افغان خواهد بود.

به اساس ماموریت جدید ناتو که در پایان سال ۲۰۱۴ میلادی در افغانستان آغاز خواهد شد، پس از ختم روند انتقال، نیروهای خارجی در بخش های آموزش و مشوره دهی با نیروهای امنیتی افغان کار خواهند کرد.

سخنگویان آیساف و ناتو یک روز پس از پایان یافتن نشست سران کشورهای عضو ناتو در شیکاگو به روز سه شنبه در کابل در این مورد به خبرنگاران معلومات دادند.

دومنیک مدلی سخنگوی نماینده‌ٔ ارشد ملکی ناتو در افغانستان گفت، که تعهد رهبران حدود ۶۰ کشور جهان در این نشست نشان دهنده‌ٔ همکاری درازمدت آنان برای ثبات افغانستان است:

"بعد از توافق روی پلان ستراتیژیک ناتو برای افغانستان، سران کشورها بر یک ماموریت تازه‌ٔ ناتو به توافق رسیدند.

این ماموریت بر آموزش، مشوره دهی و کمک نیروهای افغان بعد از آنکه آنان در ختم سال ۲۰۱۴ میلادی مسوولیت مکمل امنیت را بر عهده گرفتند، متمرکز خواهد بود."

نشست سران کشورهای عضو سازمان ناتو که مساله‌ٔ افغانستان از اجندا های مهم آن به شمار می رفت، به روز های یکشنبه و دوشنبه در شهر شیکاگوی امریکا برگزار شد.

در این نشست برخی از کشورها مقدار کمک های مالی شان را به نیروهای امنیتی افغان پس از سال ۲۰۱۴میلادی مشخص ساختند. اما به طور کل به درخواست افغانستان که سالانه خواهان کمک ۴میلیارد و یک صد میلیون دالر در این زمینه از جامعه‌ٔ جهانی شده بود، پاسخ داده نشد.

از سوی دیگر گزارش ها مبنی بر کاهش نیروهای امنیتی افغان از ۳۵۲ هزار به ۲۳۰ هزار نگرانی های را در افغانستان به همراه داشته است.

اما جنرال کارستن جاکوبسن سخنگوی آیساف می گوید، این کاهش با توجه به وضعیت افغانستان و به گونه‌ٔ تدریجی صورت خواهد گرفت:

"این یک کاهش قابل ملاحظه در پایان سال ۲۰۱۴ نخواهد بود.

ما هنوز نیاز به همکاری نزدیک دولت افغانستان داریم تا مشخص گردد که چه تعداد پولیس وارد و ضرورت است.

پس از سال ۲۰۱۵ ما در این مورد بحث خواهیم کرد بناً بیشتر از سه و نیم سال دیگر به این بحث ها و تطبیق آن باقی مانده اند."

برخی از آگاهان امور امنیتی انتقاد می کنند که کاهش نیروهای امنیتی افغانستان ممکن این کشور را با خطر جدی امنیتی روبرو سازد.

به باور آنان با توجه به وضعیت امنیتی و موقعیت جغرافیایی افغانستان، این کشور به نیروهای بیشتر نظامی نیاز دارد تا به هنگام نیاز بتوانند با هر نوع تهدیدات مبارزه کنند.

در این حال گزارش ها در مورد نفوذ عناصر برخی از حلقات استخبارات منطقه در صفوف نیروهای افغان، شک و تردید را در میان تعدادی از افغان ها نسبت به توانایی این نیروهای جهت مقابله با تهدیدات امنیتی به میان آورده است.

نیروهای افغان تنها گذاشته ...

آنها همچنان توافق نمودند تمام مسوولیت های امنیتی در سال آینده به نیروهای افغان سپرده شود.

بارک اوباما و دیگر رهبران ناتو در شیکاگو این را تایید کردند که تمام نیروهای جنگی شان را در سال ۲۰۱۴ از افغانستان خارج می کنند و تنها آموزگاران شان در آن کشور باقی خواهند ماند.

آقای اوباما در اجلاس سران ناتو گفت:

"ما هدف را برای نیروهای امنیتی افغان تعیین خواهیم کرد، که رهبری مسوولیت ها را در سال آینده به دوش گیرند و قوای آیساف نقش حمایتی را اخذ کند."

اوباما گفت، نیروهای افغان، قوی شده اند.

قراراست تعداد قوای افغان در سال جاری به ۳۵۵ هزار نفر برسد. این نیروها در حال حاضر مسوولیت حدود نصف نفوس افغانستان را به عهده دارند و با عملی شدن مرحله سوم انتقال مسوولیت ها در چند ماه آینده، مسوولیت تامین امنیت دو بر سه حصه نفوس افغانستان را در دست خواهند گرفت.

پس از ۲۰۱۳ همه عملیاتهای ...

در اعلامیه آمده است که اجلاس سران کشورهای عضو ناتو، فیصله ای را تایید کردند که ماه گذشته در اجلاس وزرای دفاع و خارجة این کشورها در بروکسل انجام داده بودند.

به اساس این فیصله، الی اواسط سال ۲۰۱۳ همه امور امنیتی افغانستان به نیروهای افغان سپرده خواهد شد و پس از آن، همین نیروها عملیات های جنگی را نیز انجام خواهند داد.

دراعلامیه آمده است که در سال ۲۰۱۴ ماموریت ناتو و آیساف در افغانستان خاتمه خواهد یافت، که پس از آن ماموریت جدید ناتو به شکل جدید آن آغاز خواهد شد.

اعلامیه افزوده است که امور ماموریت جدید، غیر نظامی خواهد بود و توجه بیشتر به آموزش خوب نیروهای ملی افغانستان صورت خواهد گرفت.

دراعلامیة کنفرانس ناتو، همچنان یادآوری شده است که تصمیم در مورد کاهش نیروهای امنیتی افغانستان را، حکومت افغانستان در مشوره با جامعة جهانی اتخاذ خواهد کرد.

منبع افزوده است که به گونه تقریبی، تعداد نیروهای ملی افغانستان که الی اخیر سال جاری به ۳۲۵ هزار تن می رسد، دوباره به ۲۳۰ هزار تن کاهش خواهد یافت، که برای این تعداد سالانه ۴،۱ میلیارد دالر ضرورت است.

دراعلامیه آمده است که برخی کشورها قبل از کنفرانس، برخی کشورها در جریان کنفرانس تعهداتی نموده اند و بقیه کشورها نیز در دوسال آینده، سهم خود را دراین پول اعلام خواهند کرد.

قبل از این، رئیس جمهور بارک اوباما، در صحبت خود در ختم این کنفرانس دو روزه، این کنفرانس را موفق ارزیابی کرد.

موصوف در مورد افغانستان گفت که آنها نمی خواهند برای درازمدت در افغانستان باقی بمانند.

اوباما گفت: "باقی ماندن برای درازمدت درافغانستان، هم برای افغانها و هم برای ما نفعی ندارد."

موصوف اظهار داشت که با سپرده شدن مسوولیت امنیت به نیروهای افغان، زمینة این امر مساعد می شود که نیروهای امریکایی، از این کشور خارج شوند.

موصوف افزود: پس از آن که در سال ۲۰۱۴ ناتو از افغانستان خارج گردد، امریکا افغانستان و افغانها را تنها نخواهد گذاشت.

رئیس جمهور کرزی، در دیدار با باراک اوباما، از کمک های جامعة جهانی اظهار سپاس کرد و ضمناً گفت که افغانستان، دیگر نمی خواهد باردوش جهانیان باشد.

هرچندمقامات امریکا و ناتو، این کنفرانس را موفق می خواندند، ولی برخی مردم در شیکاگو به این باوراند که این اجلاس را رئیس جمهور اوباما، برای کمپاین انتخاباتی خود تدویر نموده بود و اعلام و یا پلان مشخصی در مورد افغانستان در آن نداشتند.

د ناټو مشرانو پر درو مهمو ...

اخلي، زموږ قواوې به شا ته ځي او حمایوي رول به په غاړه اخلي. دا به موږ ته اجازه راکړي چې په تدریج او په مسوولانه ډول د خپلو ځواکونو شمېر کم کړو خو موږ به تر هغو جګړې ته تیار اوسو چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې موږ د خپل ایساف ماموریت پای ته رسوو."

ده وویل چې د افغانستان ولسمشر حامد کرزي منلې چې حکومت به یې د ښې حکومتدارۍ او د قانون د حاکمیت پر اساس باثباته او ولسواکې ټولنې ته ژمن وي.

د افغانستان حکومت ناټو ته بلنه ورکړې چې له ۲۰۱۴ وروسته د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره مرسته وکړي، او موږ تیار یو چې د روزنې، مشورې او ملاتړ د یوه نوي ماموریت مشري وکړو. اجازه راکړئ چې واضح ووایم، دا ماموریت به په بېلابېلو نومونو ایساف نه وي. دا به د ناټو لپاره له نوي رول سره تازه ماموریت وي.

راسموسن ناټو ځواکونو ته د ترانزیتي اسانتیاوو د برابرولو په خاطر د روسیې، قرغیزستان، ازبکستان او قزاقستان ستاینه وکړه خو په عین حال کې یې وویل چې ناټو ګڼو ترانزیتي لارو ته اړتیا لري او د پاکستان لار یې ډېره مهمه وبلله.

پاکستان د خپلې ترانزیتي لارې د بیا پرانستلو لپاره له امریکا او ناټو سره خبرې پیل کړي خو تراوسه پورې د دوی خبرې نتیجې ته نه دي رسېدلې.

د ناټو سرمنشي هیله څرګنده کړه چې پاکستان به په نژدې راتلونکې کې خپله لار پرانیزي.

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com